آریانا افغانستان آنلاین
http://www.arianafghanistan.com

مصطفی پسرلی ۲۰۱۸/۰۶/۰۳

# غزل

## دغـه نسل د افغان دی، پـه بـارودو نه ختمیږي

د درمان لورې ته ځمه، ګیله نه کړم له جهانه

درد مي نه پرېږدي سکون ته، لاره هم نده اسانه

دغـه نسل د افغان دی، په بـارودو نـه ختمیږي

ډېـر راغلـي بیرته تللي د حالاتو شول ستومانه

ځنځیرونـه شرنګومـه، سر شیندمه نه ویریږم

لـوړ تاریخ لـرم اغیاره، نه بـه تښتـم له میدانه

د جنون لـه ختي جوړ یـم، په پښتو کوم خبري

د خوشال، میرویس لمسی یم ځان خبر کړه ای نادانه

د پښتون په خاوره ناست یم، د پښتو قانون منمه

تا ستایـمـه په شعرو کې زما ګل "افغانستانه"

"پسرلیه"! ستا په مینه کې عجب خوندونـه وینم

په دې مینه غیر له خدایه نه ویرېږي له بل چانه



ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و یا spineghar@gmail.com